**افغانستان په ۲۰۱۰ کال کې : د افغانستان د خلکو په اړه یوه سروې**

**ډېرې کېدونکې پوښتنې**

**د ۱۳۸۹ کال در لړم میاشتي ۱۸مه (د ۲۰۱۰ کال د نوامبر د میاشتي ۹مه)**

**لومړۍ پوښتنه: چا سروې تمويل کړه؟**

سروې د ایشیا فوندیشن یو محصول ده چې د نړیوال پرمختګ لپاره د امریکې متحده ایالاتو ادارې ( USAID) لخوا تمويل شوې ده.

**دویمه پوښتنه: ایشیا فوندیشن دا سروې له چا سره په ګډه ترسره کړه ؟**

ساحوي کار د ټولنیز- اقتصادي او عامه نظرياتو د څېړنو افغانی مرکز (ACSOR) له خوا تر سره شو. دغه مرکز له ۲۰۰۶ کال څخه راپدیخوا د ایشیافونډیشن له ملاتړ څخه برخمن ده. ۶۳۴ تنه ښځینه او نارینه افغانانوته روزنه ورکړل شوه ترڅو د افغانستان په ۳۴ ولایتونوکې په فردي توګه مرکې ترسره کړي. د دې مرکه کوونکو زیات شمېر د تیرو کلونو په سروې ګانوکې هم د ساحوي ټیمونو یوه برخه جوړوله.

**درېیمه پوښتنه: دا پوښتنې په څه ډول طرح شوي دي؟**

د ۲۰۱۰ کال سروې او پخوانیو سروې ګانو په تر سره کولو کی له یو معیاري پوښتنلیک څخه کار اخستل شوی تر څو د وخت په تېرېدلو سره د پرتله کېدو وړتیا ولري. دا پوښتنلیک په افغانستان کې هغه پوښتنې چې د پالیسي جوړونکو، ټولنیزوڅېړونکو او بسپنه ورکوونکوسازمانونو پورې اړه ولري د هغو پوښتنو سره یوځای کوي چې په مشهورو او معروفو سروې ګانو کې لکه *د ختیځې او سهیلي آسیا د بدلون ښوونکې (East and South Asia Barometers* سروې او د *لاتین پاپ(Latin Pop) په سروې* ګانو اوهمداراز په هغو سروې ګانوکې چې ایشیا فوندیشن په بنګلدېش، کمبودیا، انډونیزیا، فلیپین او نیپال کې ترسره کړي دي، آزمایښت شوي او کارول شوې دي.

د تیرو کلونو په شان، دا سروې د ایشیا فوندیشن لخوا طرح شوې او د نوموړي بنسټ لخوا اداره او تصحیح شوې ده. مګر په دې برخه کې د مشورې د پروسې څخه استفاده وشوه داځکه چې موږ غوښتل چې ترټولو غوره ممکنه پوښتنلیک ته ورسیږو او داسې د اعتبار وړ معلومات ترلاسه کړو چې د وخت په تېرېدوسره د پرتله کیدو وړتیا ولري، چې د سروې ګانو د ګټورو تخنیکونو له اړینو اصولو څخه شمیرل کیږي. دا سروې د علاقې وړ بنسټیزې موضوع ګانې راسپړي خو په ورته وخت کې داسې عیاره شوې چې اوسني وضعیت سره سمون وخوري او پیاوړې میتود پکښې کارول شوی تر څو د اوسنیو محدودیتونو او ننګونو ځواب ویونکې وي. د بیلګې په توګه سږ کال د پارلماني ټاکنو، ودې او پراختیا، اداري فساد او بیا پخلاینې په هکله نوې پوښتنې په پوښتنلیک کې ځای پر ځای شوې وې. نورې پوښتنې مو یوڅه لنډې کړې وې ترڅو دغو نویو مهمو پوښتنو ته چې له اوسني وخت سره یې تړاو درلود وخت پاتې شي. دا سروې د هر ځواب ورکوونکي درې نیم ساعته وخت نیسي، ځکه نو موږ هڅه کوو چې له دې څخه اوږده نشي.

**ځلورمه پوښتنه: د کوم میتود څخه کار اخیستل شوی دئ؟**

هغه میتود چې په سروې کې ورڅخه استفاده شوې ده د ۶۴۶۷ کسانوسره د یوې څو مرحله یي غیږمنظمي فردي مصاحبو د نموني (سمپل)څخه عبارت ده چې په افغانستان کې دهغو نارینه وو او ښځوسره چې د اتلسوکلونوڅخه زیات عمر لري، ترسره شوی ده.

د نمونه اخیستني (سمپلنګ) په موخه افغانستان په اتو جغرافیایي سیمو چې ۳۴ ولایتونه رانغاړي، ووېشل شو. ټول ولایتونه د سروې په واسطه ترپوښښ لاندې راغلل. د سیمې د کلتوري دودونو له امله په پیل کې نفوس په ښځینه او نارینه وږو نمونو(سمپلونو) ووېشل شو. د نمونې(سمپل) اخیستنې لپاره هرې سیمې، ولایت او هرې طبقې ته مساوي شمېږ ښځینه او نارینه ځواب ورکوونکی ټاکل شوي وو. د نارینه او ښځینه ځواب ورکوونکو سره مرکې د هغوی افغاني همجنسو مرکه کوونکو لخوا ترسره شوې. د مثال په ډول یوازې ښځینه مرکه کوونکو له ښځو سره مرکې وکړې.

( د میتود بشپړ تفصیل د سروې رپوټ په دویمه (۲) ضمیمه کې برابرکړی شوی ده.)

**پنځمه پوښتنه: د څومره افغانانو سروې ترسره شوه؟**

۶۴۶۷ کسان ( ۴۴ ٪ ښځې او ۵۶ ٪ سړي)

**شپږمه پوښتنه: په هېواد کې امنیتي ستونزو د سروې په پایلو څه ډول اغېزې لرلې؟**

د ۲۰۱۰م کال په اوږدو کې د هیواد په ځینو ولایتونو کې د امنیتي وضع خرابوالی، مثلاً د جګړو شتون، او همدارنګه طبیعي خنډونه لکه د سیلابونو راوتل په ځینو ولایتونو کې د دې لامل وګرځیده چې د نمونې اخیستنې ځیني مرکزونه په تاکتیکي توګه له خطرونو څخه د سروې کوونکو د خوندي کولو په موخه بدل رابدل شي. د امنیتي او لوژستیکي خنډونو د لیرې کولو، د ټولو ۳۴ ولایتونو ترپوښښ لاندې راوستلو او د داسې نظرونو د ټولولو لپاره چې د ټولو خلکو د نظرونو استازیتوب وکړای شي، په عین ولایت کې د نمونې اخیستنې بدیل ځایونه وټاکل شول. په ۲۰۱۰ کال کې دې ته اړتیا پیدا شوه چې د امنیتي ستونزو له امله د نمونه اخیستنې ۱۶٪ مرکزونه په ټول هیواد کې بدل رابدل شي په داسې حال کې چې په ۲۰۰۹ کال کې ۱۲٪ مرکزونه بدل رابدل شوي وو.

۶۳۴ ښځینه او نارینه افغانان وروزل شول ترڅو د افغانستان په ګوټ ګوټ کې فردی مرکې د افغان وګړو د انګیرنې او تجربو د اندازه کولو لپاره په ژوندئ او بطرفه بڼه ترسره کې.

نور تفصیلات د دغه رپوټ د لنډیز په ۳.۱ برخه کې موجود دي. د میتود بشپړه شرح د سروې د رپوټ په دویمه ضمیمه کې موجوده ده.

**اوومه پوښتنه: دا سروې د ایشیا فونډیشن له نورو سروې ګانوسره څه توپیر لري؟**

د ۲۰۱۰ کال سروې چې د ۲۰۰۴ کال د سروې په پرتله خورا پراخه وه او په ۲۰۰۶، ۲۰۰۷، ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کلونو کې د ترسره شویو سروې ګانو په دوام تر سره شوه د علاقې وړ بنسټیزې موضوع ګانې یې را وسپړلې خو په ورته وخت کې داسې عیاره شوې وه چې اوسني وضعیت سره یې سمون خوړ او پیاوړې میتود پکښې کارول شوی وو تر څو د اوسنیو محدودیتونو او ننګونو ځواب ویونکې وي. ددې انعکاس په اوسنی سروې کې په دې توګه شوی چې د پارلماني ټاکنو، ودې او پراختیا، اداري فساد او د مخالفینو د بیا پخلاینې په هکله زیاتې پوښتنې پکښې ځای پر ځای شوې وې. نورې پوښتنې مو یوڅه لنډې کړې وې ترڅو دغو نویو مهمو پوښتنو ته وخت پاتې شي او له بله پلوه پوښتنلیک ډیر اوږد هم نشي.

د ۲۰۰۴ سروې د ۲۰۰۴ کال د افغانستان د جمهوري ریاست د ټاکنو په اړه د رایه ورکوونکو د خبرتیا د ارزونې په موخه وه او د ا کوچنۍ سروې وه چې پکې د (۸۰۴) کسانوسره مرکه ترسره شوه او زیات شمېږ پوښتنې دهغو خلکو په اړه وې چې غوښتل یې د ۲۰۰۵ کال په ټاکنوکې ګډون وکړي.

د ۲۰۰۶ کال سروې (چې د ۱۳۸۵ کال د لړم میاشتې په ۱۸مه خپره شوه) د سیاسي پروسې په اړه ډېرې ورته پوښتنې درلودې مګر دا سروې د ۲۰۰۴ کال د سروې په پرتله ډېره پراخه وه چې ۶۲۲۶ افغانان په ۳۲ ولایتونوکې سروې شول اودهغوی څخه د اعتماد، د ستونزو د حلولو، امنیت، دښځودحقونو، مذهب او ودې او پرمختګ په اړه پوښتنې وشوې.

د ۲۰۰۷ کال سروې (چې د ۱۳۸۶ کال د لړم میاشتې په لومړۍ خپره شوه) د یوې لویې نمونې اخیستنې په موخه وه او د ۶۲۶۳ کسانوسره مرکې ترسره شوې اوټول ۳۴ ولایتونه یې تر پوښښ لاندې راوستل.

د ۲۰۰۸ کال په سروې کې (چې د ۱۳۸۷ کال د لړم میاشتې په اوومه خپره شوه) د افغانستان په ۳۴ ولایتونوکې د ۶۵۹۳ افغانانو سره په هر ولایت کې مرکې ترسره شوې.

د ۲۰۰۹ کال په سروې کې (چې د ۱۳۸۸ کال د لړم میاشتې په پنځمه خپره شوه) له ۶۴۰۶ کسانو سره د هیواد په ټولو ۳۴ ولایتونو کې مرکه وشوه. د ۲۰۰۸ کال په پرتله د دغه کال د نمونې د کچې د کموالي دلیل دا وو چې په زابل، ارزګان او پکتیکا کې مونږ ونه توانیدو چې له ښځو سره مرکې وکړو.

د ۲۰۱۰ کال لپاره د سروې پوښتنلیک لومړی د ایشیا فونديشن دننه وڅېړل شو او وروسته بیا بسپنه ورکوونکو ادارو ته د مرور او نظر غوښتنې لپاره واستول شو. د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو له ټاکنو څخه وروسته او د سږکال د پارلماني ټاکنو څخه مخکې د افغانانو د نظرونو د ټولولو په موخه په پوښتنلیک کې د دغو موضوع ګانو په اړوند ځانګړې پوښتنې ځای کړی شوې. هر هغه ځای کې چې فکر کیده ډېر روښانه اوګټورځوابونه لاسته راتلی شي، ځینې معیاري پوښتنې بیا له سره جوړې شوې. د نمونه اخیستلو په طرح کې ځینې بدلونونه منځ ته راغلل ترڅو مرکې زیاتو ځایونوته وغزوي او په ځوابونوکې د تکرار څخه مخنیوی وکړي ځکه چې نمونې ډېر یوله بل سره د نژدې ځایونوڅخه غونډې شوې دي.

**اتمه پوښتنه: ولې د سږني کال په سروې کې د ۲۰۱۰ کال د پارلماني ټاکنو اړوندې پوښتنې ورزیاتې شوې؟**

د بنسټیزو پوښتنو سربیره چې د سروې له پیل څخه په پوښتنلیک کې راغلې دي، هر کال د ځانګړو او وخت پورې تړلو موضوع ګانو اړوندې پوښتنې هم پکښې ورزیاتیږي. دا سروې له یوې خوا په یوه ځانګړې زماني مقطع کې د افغانانو نظرونو ته کتنه کوي او له بله پلوه د یوې کابو اوږدې مودې په ترڅ کې په عامه افکارو کې راغلي بدلونونه سنجوي.

**نهمه پوښتنه: آیا دغه سروې دا سنجوي چې آیا د تیر کال د ولسمشرۍ د ټاکنو د پایلو څخه وروسته د افغانانو پوهاوی د ټاکنو په اړه زیات شوی ده که نه؟**

اوسنۍ سروې په هماغو وختونو کې ترسره شوه چې تیرې سروې ګانې تر سره شوې وې، یعنې د ۱۳۸۹ کال د غبرګولي له ۲۷م څخه د چنګاښ تر ۱۵م پورې د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو د ټاکنو څخه وروسته او د پارلماني ټاکنو څخه مخکې د افغانانو نظرونه رانغاړي. له ټاکنو څخه دوه میاشتې وړاندې ٪۷۸ افغانان له پارلماني ټاکنو څخه خبر وو. ٪۷۴ سروې شوو کسانو چې ټاکنو ته یې نومونه لیکلي وو وویل چې رایه به ورکړي چې له دې ډلې ٪۳۹ یې وویل چې په د رای ورکولو شونتیا یې زیاته ده.

**لسمه پوښتنه: آیا نورې سروې ګانې به هم ترسره کېږي؟**

هو، ورته سروې ګانې د ۲۰۱۱ او احتمالاً ۲۰۱۲ کلونو لپاره پلان شوې دي.

**یوولسمه پوښتنه: ایشیا فونديشن د سروې په اړه څه فکر کوي؟**

زمونږ د پخوانۍ سروې د رپوټونو په څېر ایشیا فونديشن دا دنده په غاړه نلري چې سروې ګانې تفسیر کړي. زمونږ دنده داده چې مضبوط ، ګټور، اوبې ساري معلومات ترلاسه کړو ترڅو په سیمه کې په حالاتو باندې رڼا واچوو او د پالیسي اړوندو کارونوته زمینه برابره کړو. د سروې رپوټ یو د مهمو کارونو څخه ګڼل کېږي چې په افغانستان کې په ډېرو ستونزمنو حالاتو کې ترسره شو مګر ایشیا فونديشن د دې موندنو په اړه کوم نظر نلري.

موږ په دې څو کلونوکې د دې سروې ګانو په ترسره کولو ډېر خوښ یو. موږ په افغانستان کې د افغانانو وړتیا ته د سروې په برخه کې ارتقا ورکړې او هیله مند یو چې له(ACSOR)، کابل پوهنتون، د احصائیې مرکزي ادارې او نوروسره په راتلونکې وخت کې د نژدې څخه کار وکړو او خپل کارته دوام ورکړو.

**دولسمه پوښتنه: ولې ایشیا فونډیشن دا سروې تر سره کوي؟**

ایشیافونډیشن په آسیا کې د کارولو لپاره د پیچلو او تجربي سروې ګانو په تر سره کولو کې شهرت لري په کومو کې چې د عامو وګړو اندېښنې، اړتیاوې او ملاتړ او د پراختیا بهیر سنجول کیږي او د پالیسي د اړوندو بحثونو لپاره معلومات را غونډول کیږي.

دا سروې له یوې خوا په یوه ځانګړي زماني مقطع کې د افغانانو نظرونو ته کتنه کوي او له بله پلوه د یوې کابو اوږدې مودې په ترڅ کې په عامه افکارو کې راغلي بدلونونه سنجوي. ددې کار موخه دا ده چې د افغانستان د خلکو له یوې لویې برخې څخه د معاصرې حکومتدارۍ او نورو د انکشاف اړوندو مسایلو په هکله اصلي نظریات راټول شي تر څو پالیسي جوړوونکي او په دولت کې مفکوره جوړوونکي، همدارنګه نړیواله ټولنه او په پراخه توګه عام افغانان پر دې وتوانیږي چې له اعتبار وړ معلوماتو څخه په ګټه اخستلو سره پرېکړې وکړي او همدارنګه د راتلونکې لپاره نوې پالیسیانې جوړې کړي.

**دیارلسمه پوښتنه: آیا ایشیافونډېشن به سږ کال د دغې سروې ځېړنیزه جزوه هم خپره کړي؟**

نه، ایشیافونډېشن به سږکال د دغې سروې ځېړنیزه جزوه خپره نکړي بلکې دا کار به په راتلونکې کال کې وکړي. تمه کیږي چې د ۲۰۱۱ کال سروې به د افغانستان په وړاندې د نړیوالې ټولنې د پالیسېو بدلون په ګوته کړي او د دغې سروې په څېړنیزه جزوه کې به د دغې سروې موندنې په کره او هر اړخیزه توګه تفسیر او وڅیړل شي. تر اوسه ایشیافونډېشن د ۲۰۰۶ او ۲۰۰۸ کال له سروې ګانو سره څېړنیزه جزوه خپره کړې ده.